

# شاغلی نصرالله حافظ

## زموږ دهیواد د معاصر ادب او فرهنګ

## پیاوړی شاعر او نامتو لیکوال

زه دپښتو ادبیاتو په رنګین او غوړیدلي ډګر کې د داسي یو نامتو ادبي او فرهنګي شخصیت په هکله خبرې کوم، چې د ده نوم د یو دروند، قدرمن، نوښتګر لیکوال او شاعر په توګه د پښتو ادب او هنر په رنګینه نړۍ کې د تل لپاره ژوندی، نه ورکیدونکې او نه هیریدونکي دی. دا وتلي لیکوال او شاعر د خپل ځلاند نبوغ او د ځپاند هنري استعداد او ذکاوت په وسیله او د خپل لوړ تخیل او اوچت فکر په درلودلو سره یې دشعر په اسمان کې داسي ستورو ته لاس غځولي دی، چې د ده شکلي او اغیزمند شعرونه خوله په خوله، کور په کور، کلي په کلي او ښار په ښار ګرځي راګرځي. د ده منظوم او منثور آثار د مضمون، محتوا او فورم له مخي د پښتو ادب او شعر په بڼ کې

www.esalat.org

ارزښتمند، ګټور، رنګین او په زړه پوري ملي، ادبي او هنري شتمنۍ شمېرل کیږي.
دا خو د رویه، غوړیدلې، تازه او ښیرازه ګل د پښتو ادب په ګلستان کې (**ښاغلی نصرالله حافظ**) دی.
**ښاغلی نصرالله حافظ** د خپل علمي او ادبي هلو ځلو په وسیله د پښتو کلاسیکه شاعري د نوي معاصرې شاعرۍ سره د ټولو شعري اصطلاحاتو او ژبني ترکیبونو په پام کې نیولو سره، چې تخیل، عاطفي احساسات، مفکوره، آهنګ او موسیقیت یې روح ګڼل کیږي وصل کړي دي او خپله طبع یې په ډیره ظریفانه، هنرمندانه او ادیبانه انداز سره په دې لاره کې آزمویلې ده، چې د ده دا ادبي او هنري خدمتونه او فعالیتونه د ډیر قدر او ستاینې وړ دي.
ښاغلی **نصرالله حافظ** د میرزا نوراسلام زوی دی، چې په (۱۳۱۰) لمریز کال کې د ننګرهار ولایت د چپرهار په ولسوالی کې د حافظانو په کلي کې په یو ادبي او روحاني کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي. ده خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې د ننګرهار په ولایت کې د خپل کلي چپرهار په ولسوالی کې په لومړنی ښوونځي کې پای ته رسولي دي، ده دخپلوهمزولو په ډله کې یو ځانګړی استعداد او ذکاوت درلود، او په شپږم ټولګي کې وه، چې په شعر ویلو یې پیل وکړ.
**حافظ صاحب وايي:** زه په داسې یو ماحول کې پیدا شوی یم، چې وروسته له آزانه ما شعر اوریدلی دی. د دغو ماحول تاثیر وه، چې زه شاعر شوم. دی په (۱۳۳۱) لمریز کال کې د عالي دارالمعلمین نه فارغ شوی دی.

www.esalat.org

وروسته له فراغت نه دښوونې او روزنې په وزارت کې د ښوونکي په توګه وټاکل شو، او د **خوشحال خان** په لیسه کې يې دښوونکي دنده درلوده. په (۱۳۳۳) لمریز کال کې په **پښتني تجارتي بانک** کې مقرر شو او هلته د **(ويسا)** مجلې غړی شو، چې دا مجله د دغې بانک له خوا خپریدله او ده پنځه یا شپږ کاله په دغه بانک کې کار وکړ. په (۱۳۳۹) لمریز کال کې د پښتون غږ د مجلې په اداره کې د مرستیال په توګه دنده لرله او بیا په همدغه کال کې په **راديو افغانستان** کې کار پیل کړ، او هلته د راډیو د روزنې اداري د پښتو برخې د چلوونکي په توګه وټاکل شو. په (۱۳۴۳) لمریز کال کې د راديو د تدقیق مدیر او وروسته د هنراو ادبیاتو د اداري د مرستیال په توګه وګمارل شو. څو موده وروسته بیا د راديو د روزنې اداري د ټولنیزو خپرونو د مدیریت دنده ور په غاړه شوه. ده په راديو کې د پښتو ډرام او ډیالوګ د مدیر په توګه هم دندې تر سره کړي دي. په (۱۳۵۳) لمریز کال کې ده د راديو د انسجام د مدیر په توګه او د هنر اوادبیاتو په اداره کې د مرستیال په توګه خپله دنده تر سره کړې ده. په (۱۳۵۸) لمریز کال کې د **پښتنو او بلوڅو** د خپرونې د لوی مدیر په توګه وټاکل شو، او له (۱۳۵۹)لمریز کال راهیسې ده د هنر او ادبیاتو په اداره کې کار کاوه.

د حافظ صاحب دشعري کلام او دالفاظو عاطفي رنګ او خوند، ژبني ادبي خوږوالی او دشعري ترکیباتو پراخوالی او مقبولیت په ډیر ښکلي اوظریفانه شکل

ترسیم شوي دي او په هر ادبي ذوق برابر دي، او شعري موسیقیت او آهنګ یې ښکلی او رنګین دی او د ده شعر ته یې روح بخښلی دی. د ده لومړنی شعر په (۱۳۳۱) لمریز کال کې د **انیس** په ورځپاڼه کې چاپ شوی و. ده په خپل ادبي نوښت او تازه لیکنو د پښتو ادبیاتو په ګلبڼ کې داسې ګلان وکرل، چې د ده دګلونو غوټی ګل شوی، وغوړیدی او کل مخی شوی، چې نن سبا د ګلونو په ګلزار کې د دغو رنګارنګ او تازه ګلونو بوی او عطرونه دپښتو ادب په شین او زرغون آسمان کښې معطره شوي دي او هر څوک په ښه انداز تری نه ګټه پورته کوي.

حافظ صاحب هغه وخت، چې په رادیو افغانستان کې د ادبیاتو په اداره کې کار پیل کړ، ده ته هلته دا چانس ور په برخه شو، چې د یو شمیر ادبي او فرهنګي شخصیتونو سره آشنا شي او په ادبي برنامې او پروګرامونو کې فعاله ونډه واخلي. ده هلته یوه دیني خپرونه، چې (دسهار نذرانې) په نوم یادیدله خپروله او (۲۲) کاله یې وچلوله، دغې برنامې د اولس په راویښولو کې ډیر زیات اغیز درلوداو دخلکو له خوا په هغه وخت کې د ستاینې وړ خپرونه وه او ډیر مینه وال یې درلودل.

حافظ صاحب ډیرې زیاتې خوندورې ادبي لیکنې لري، او زیاتره ښځینه او نارینه سندر غاړو او هنرمندانو ته یې سندرې او ډیر عالي تصنیفونه جوړ کړي دي، چې د ده زیاتره شعرونه د هنرمندانو له خوا په ډیرو

شکلو طرزونو او شایسته کمپوزونود موسیقي په پردو کې ویل شوي دي.

**میرمن پروین،** چې زموږ دهیواد یوه درنه، نامتو او پخوانۍ سندرغاړې وه، د حافظ صاحب شعرونه یې په ډیر شکلي کمپوزونو کې په خپل خوندور او زړه وړونکي آواز کې ویلي دي. د بیلګې په توګه دا بیت ګورو:

د ستا په سترګو کې جانانه څه اثر غوندې دی
چې مې لیدلې بیخي زړه زما اوتر غوندې دی

**استاد اولمیر،** چې یو خوږ ژبی، وتلی، دروند او نامتو سندر غاړی او هنرمند و په خپل خوږ آواز کې یې د حافظ صاحب ډیر زیات شعرونه په ډیر عالي طرزونو او کمپوزونو کې په شکلي او د اغیز نه ډک آواز کې دموسیقی په پردو کې داسې ویلي دي، چې د خلکو په زړونو کې منګولې ښخوي او خلک ځانته راکاږي او روح ته یې آرامش ورکوي. د بیلګې په توګه دا بیت ګورو:

د آسمان په شنه لمن کې دبهار وریځی نڅا کړي
خوشحالي کړي اتڼونه، چې خندا ورته بریښنا کړي

**استاد قدیم،** چې زموږ د وطن یو تکړه، نامتو او اولسي او وطني سندرغاړی او هنرمند و ده هم د حافظ صاحب شعرونه په خپل شکلي او په زړه پوري آواز کې په ډیر شکلي کمپوزونو او طرزونو کې ویلي دي. د بیلګې په توګه دا بیتونه ګورو:

سور سالو په سر که په مکیز باندې روانه شه
څه کړه وړه شه لکه زرکه خرامانه شه

او یا وايي:

**بیا د لیلا د لاس بنګړي په شرنګیدو شکاري**

**په شونډو سرو یې سور پیزوان په ګډیدو ښکاري**

**حفیظ الله ګردش**، چې زموږ د هیواد یو خوږ غږی او پیژندل شوی سندرغاړی او هنرمند دی، نوموړی خپله یوه خاطره د استاد حافظ صاحب د ادبي او فرهنګي شخصیت په هکله داسي بیانوي:

(پخوا، چې کله یو سندر غاړي غوښتل، چې یوکمپوز جوړ کړي اویا که کوم کمپوز ورته پیدا کیده، حافظ صاحب ته یې مراجعه کوله، چې زه داسي یو کمپوز لرم ته په دي قالب کې ماته یو شعر ولیکه. ماهم د مسرور صاحب نه یو کمپوز تر لاسه کړی و. داکمپوز ما حافظ صاحب ته وروړ او حافظ صاحب ماته یو شعر ولیکه، چې دا شعر یو ډیر خوندور او ښکلی وه لکه:

**ښکلی دلداره زما ستا له غمه مرمه راشه بې وفا**

ما دا سندره په تلویزون کې ویلې ده.)

لنډه دا، چې نه یوازې دغو هنرمندانو، چې موږ یاد کړل بلکې یو شمیر زیاتو نورو سندرغاړو او هنرمندانولکه: استاد ایوب، طلامحمد، نعمت الله، سید علم او داسي نورو، دحافظ صاحب ډیر زیات شعرونه په خپل خوږوآوازونوکي ویلي دي.

په رښتیا سره چې د حافظ صاحب شعرونه یو ځانګړې موسیقیت لري، ساده، روانه، رنګینه او شاعرانه ژبه لري. د ده شعرونه اولسي خوند او رنګ لري، ژبني او شاعرانه ترکیبونه داسي انځوروي، چې د لوستونکو، اوریدونکواو ویونکو په ذهن کې یو ښکلی انځور او

عيني حقيقت ترسيموي، او د خپلو ذوقمندو او مينه والو په زړونو کې داسې شکلا او مينه راپاروي، چې دوی هرومرو ترينه ګټه پورته کړي او خپله ادبي تنده پرې ماته کړي.

داجوته ده، چې زموږ زياتره ليکوالان او شاعران ډېر با ارزښته منظوم او منثورآثار ليکلي دي، د دغو ليکوالانو او شاعرانو ليکنې نه يوازې، چې دقدر او ستاينې وړ دي بلکې د دوی ادبي او فرهنګي مقام او منزلت زموږ په ټولنه کې يو ځانګړې ځای او مرتبه لري او زموږ خلک د دوی ادبي هلې ځلې او خدمتونه ستايي او په درنه سترګه ورته ګوري.

حافظ صاحب هم د هغو ليکوالانو او شاعرانو له ډلې څخه دی، چې ده دخپل قلم، علم او فکر په وسيله زموږ دادب وړانګې روښانه او ځلانده ساتلې دي. ده په خپل هنري، ادبي او فرهنګي فعاليتونو او خدمتونوکښې (۵۲) کتابونه ليکلي دي، چې يو شميريې چاپ شوي دي. ديادونې وړ ګڼم، چې حافظ صاحب په خپل ادبي او فرهنګي ژوند کې دخپلو ادبي آثارو په ليکلو د يو شمير مقاماتو له خواتقدير شوی هم دی.

د ده چاپ شوي آثار دا دي:

- دشمشاد مسکې خوکې: دا شعري ټولګه د حافظ صاحب لومړی ټولګه ده چې په (۱۳۶۲) لمريز کال کې د ليکوال ټولنې له خوا خپره شوې ده.

- دنغمو کاروان: په دې کتاب کې د حافظ صاحب هغه د پښتو سندرې، چې درادیو په آرشيف کې ثبتې شوې دي، ليکل شوې دي. دا اثر په (۱۳۵۶) لمريز کال کې

دنریوال سمینار په ویاړ د بیهقي کتاب خپرولو د موسسې له خوا خپور شوی دی.

- ستا د چم ګلونه: دا شعري ټولګه په (۱۳۶۵)لمریز کال کې د چاپ او خپرولود دولتي کمیټې له خوا چاپ شوې ده.

- ستا د چم ګلونه: دا د شعرونو بله ټولګه ده، چې په (۱۳۶۵)لمریز کال کې د چاپ او خپرولود دولتي کمیټې له خوا چاپ شوې ده.

- سهارنې نذرانې: دا هغه دیني برنامه ده، چې حافظ صاحب په راډیو افغانستان کې جوړوله.

- دحق پتنګان: دا دیوې خپرونې نوم دی، چې حافظ صاحب د خپل قلم اوچت په وسیله ورته لیکنې برابرولې، چې اوس هم په راډیو کې خپریږي.

- د اتم ټولګي تاریخ: دا ژباړل شوی کتاب دی، چې حافظ صاحب په پښتوژبې ژباړلې دی او په (۱۳۴۴) لمریز کال کې چاپ او خپور شوی دی. دا کتاب دپښتو ژبې د زده کوونکو لپاره چاپ شوی دی.

- مات ستورې: دا ټولګه د حافظ صاحب د شعرونو ټولګه ده، په (۱۳۷۹)لمریز کال کې چاپ شوې ده، چې په دغه ټولګه کې د ده ډیر خوندور، شکلي او ښایسته غزلونه لیکل شوي دي.

تاترې: دا اثر په (۱۳۶۶) لمریز کال کې چاپ شوی دی، چې په دې اثر کې خوندور نظمونه لیکل شوي دي.

- دردونه او تکلونه: دا اثر په (۱۳۶۹)لمریز کال کې چاپ شوی دی، چې په دې اثر کې ډیر خوندور او په زړه پورې غزلونه لیکل شوي دي.

www.esalat.org

- زږه پګړی: دا اثر په (۱۳۸۶) لمریز کال کې چاپ شوی دی.
- هیواد، سوله او جرګه: دا شعري ټولګه په (۱۳۸۷) لمریز کال کې چاپ شوې ده.

حافظ صاحب یوشمیر ناچاپ آثارهم لري او دی په دا فکر کې دی، چې دا آثار هم دچاپولولپاره ترتیب اوتدوین کړي. د دغو آثارو نمونه دا دي:
دمینې ډیوه، زما ترانې، د حق پتنګان، په جاپان کې اسلام، دلنډو کیسې یوه ټولګه، دننګ په نامه، د بیداری غږ، دسباوون نغمه، مات وزرونه، د اسلام سیاسي تاریخ، د حضرت محمد (ص) دوړکتوب کیسې، ویرنې او ستاینې، دسولې علم بردار، پردیسه مینه، مرسته، حبابه، کابل شهیدشو، غیرتي ابی، هغه شپه چې لمن یې سپینه ده، شعري بغاوت، منظوم لیکونه، دپښتو ژبې سره دزړه خواله، سپرلنی ټولګه، د نړی د نامتو لیکوالانو کیسې، پټ پالنه، دنړی دمشهورو شاعرانو شعرونه (ژباړه)، د نړی دادبیاتو د شهکارونو کیسې (ژباړه)، پرهرونه، او داسې نور.
په رښتیا سره که چیرې د حافظ صاحب ناچاپ منظوم او منثور آثارهم چاپ شي، نو دا خرګندیږي، چې د ده آثارزموږ د پښتو ادب یوه لویه او بډایه ګنجینه او خزانه ده.

دبهرنیو ژبو د آثاروژباړل زموږ په هنري، ادبي، علمي او نوروپوهنیزو برخو کې ډیر زیات اغیز لري،

او زمونږ لیکوالان او شاعران کولې شي د هغوی له آثارو څخه ډیره ښه تجربه تر لاسه کړي او زمونږ د پښتو ادب نور هم پرې رنګین کړي. له نیکمرغه، چې زمونږ حافظ صاحب هم دهغو لیکوالانواو شاعرانو له ډلې څخه دی، چې دخپل لوړ تخیل، اوچت فکراوقلم په وسیله یې د (۴۰۰) په شاو خوا کې لنډې نړیوالې کیسې او یو شمیر نکلونه یې دفارسي- دري ژبې نه په پښتو ژبې ژباړلي دي، چې د ده دا خدمت دډیر قدر او ستاینې وړ دی.

حافظ صاحب د(۵۵) کالوپه شاوخواکې په راډیوافغانستان کې دادبي او فرهنګي فعالیتونوسره بوخت و. ده په زیاتره او مهمه مشاعرو کې دیوخوږ ژبي ویاند او انانسر په توګه شعرونه دکلمه کول، اود زیاترو ښځینه او نارینه سندرغاړواو هنرمندانو سندرې، شعرونه او تصنیفونه یې لیدل او اصلاح کول.

حافظ صاحب د یو شمیر مشهورو خپرونو لپاره ډیرې په زړه پورې او خوندورې لیکنې کړې دي، چې دا مشهورې خپرونې دا وې:

سهارنی نذرونه، دحق پتنګان، شوم دم انګازې، از هر چمن سمنې، زرغون ټال، دادب وږمې، هنر او ژوند، څپې، د نکریزو پاڼه، دطاووس ښکه، دمعرفت سمونه، دنیسان غږ او داسې یو شمیر نورې خپرونې، چې دا ټولې خپرونې د راډیو افغانستان په آرشیف کې خوندي دي. حافظ صاحب په سلګونو نورې لیکنې هم کړې دي، چې د وخت په ورځپاڼو، جرایدو اومجلو کې چاپ شوي

دي. ده د یو شمیر نامتو، پیاوړي او وتلي لیکوالانود آثارو په هکله هر اړخیزې ادبي څیړنې هم کړې دي لکه: خوشحال خان ختک بابا، استاد حمزه شینواری، استاد راحت زاخیلي، استاد قیام الدین خادم او داسې نورو.
دحافظ صاحب شعرونو د رحمان باباود استاد حمزه شیواري له شعرونو څخه رنګ اخیستې دی.
عبدالله بختانې، چې زموږ دهیوادیو نامتولیکوال او وتلي شاعر دی. د حافظ صاحب د شعرونو په هکله داسې وایي:
(حافظ صاحب په خپلو شعرونو کې د اولس شاعري او دپښتو د پخوانیوشاعرانو شعري عنعنې ته په ښه او درنه سترګه کتلي او په ښه ډول یې دوام ورکړی دی او غنا یې وربخښلی ده )
حافظ صاحب دخپل لوړ او شاعرانه تخیل او اوچت فکر په وسیله دپښتو غزل رنګین ساتلی دی او ډیر خوندوراو په زړه پوري غزلونه یې لیکلي دي. ده دپښتو ادب په ډګر کې په خپل نبوغ او طبیعي استعداد سره د پښتو غزل ته د عصر د نویو تجربو سره یو نوی اوتازه رنګ ورکړ. ده خپل غزلونه په بدیعي صنعتونو، استعاراتو، کنایاتو، تشبیهاتواو سمبولونوښکلي کړي دي. ښاغلی عبدالغفور لیوال، چې زموږ د هیواد یو تکړه لیکوال او خوږ ژبې شاعر دی د حافظ صاحب د شعرونو دښکلا په هکله داسې وایي:
(د ښاغلي حافظ په شاعری کې، صنعتونه ډیر دپام وړ دي. یعنې ټول هغه معنوي او د بیان فنون او

صنعتونه، چې زموږه په کلاسيکه شاعرۍ کې معمول وو، په معاصره دوره کې ښاغلی نصرالله حافظ هغه يو يوازنی شاعر دی، چې ورته پام اړولی دی. )

حافظ صاحب دپښتو ادب يو نوښتګر اوبريالی ليکوال او شاعر دی، چې ډيرې زياتې غزليزې ټولګی لري لکه: ستا دچم ګلونه، مات ستوري، دردونه تکلونه، زړه پګړی او داسې يو شمير نورې شعري ټولګې، چې تر اوسه نه دي چاپ شوي.

- حافظ صاحب د مينې، ښکلا او عاطفې احساس شاعر دی. ده په خپلو شعرونو کې دطبعيت رنګينه ښکلا، مينه او محبت، حسن او جمال، دمطربانو، مستانو او رندانومحفلونه، د سوزاو ساز سندرې، دميو بلې ډيوې او د ښايسته ساقې په لاس کې دميو جام او همداسې نور ظريفانه او شاعران ترکيبونه او سمبولونه په ډير ښکلي او خوندور شکل د شعر په ژبه بيان کړي دي. دبيلګې په توګه د ده دغزلونو د ا بيتونه ګورو، چې وايي:

شپه خومره لويه شوه اوږده شوه سبا هيڅ نه راځي
تياري خورې په شاوخوا دي رڼا هيڅ نه راځي
دمجنون سترګې ورته فرش دي د راتلو په لاره
چې يو دناز قدم پرې کيږدي ليلا هيڅ نه راځي
او يا وايي:
ساقي! د زړه شراب په نوي پيمانه کې راکړه
مطربه کيف د دريا ب په ترانه کې راکړه
په سر مې واړولې ډيرې د ستم زمانې

صله د رحم لېر په دغه زمانه کې راکړه
اويا وايي:
مونږ د شعر له کوره ځو خو غزل ځان سره وړو
بلې ديوې د پتنګانو اجل ځان سره وړو
څه مو چې کړي په دنيا کې هغه دلته پرېږدو
شه وي که بد وي دا ناچيزه عمل ځان سره وړو

اويا وايي:
ځرک د رڼا ته انتظار کاږم
توره تياره کې د ژوند لار کاږم
چې مې يو ګل نشته دژوند په بڼ کې
منت به څله د بهار کاږم
اويا وايي:
د حسن ملنګان يو د جانان کوڅې ته ځو
د خپلې ورکې مينې د ارمان کوڅې ته ځو
شايد چې په کې بيا مومو کعبه د خپل مراد
جنونه ستا د رحم د ګريوان کوڅې ته ځو
اويا وايي:
لکه تالا، چې يې خزانه شول زما ګلونه
په هغه رنګ دي تالا مه شه د هيڅا ګلونه
لمدي په پرخه د غونچو نيمزالې سترګې نه دي
بلبله ستا په غم کې ناست دي په ژړا ګلونه
اويا وايي:
چې يې زلفې په مستۍ راوا‌ړولې
په ناز ستر‌ګوليونۍ راوا‌ړولې
ما ادم باندې د مرګ د خوارۍ خاورې

دي د حسن دُرخانی راوړولې
اویا وایي:
بیا د لیلا زلفې په مخ باندې سمسورې شوې
خمارې سترګې یې په کومو رنجو تورې شوې
د ښایستوکې خورې نخرې یې نورې شوې
د جهان سترګې ورته ستړې په لیدو ښکارې
اویا وایي:
نوې مې وچې پرې د سترګو د اسمان چینې شوې
تا چې په سپینه کوکی راوړل د خندا ګلونه
یو عجیبه غوندې شور ګډ شو په بازار د حسن
حافظ چې راوړل د غزل په لمن بیا ګلونه

دحافظ صاحب په شعرونو کې ملي، وطني، عاطفي او ټولنیز احساسات په ډېرو ښکلو تصویرونو او خیالونو کې ترسیم شوي دي. ده دټولنیز ژوند په بیلا بیلو اړخونو کې خپله شعري طبع آزموېلې ده، چې لوستونکی یې په خونداورنګ نه مړیږي.

ښاغلی زرین انځور، چې زموږ دهیواد تکړه لیکوال، اووتلې شاعردی د حافظ صاحب دشاعرۍ په هکله داسې وایي:

( نصرالله حافظ د پښتو ژبې اوسمهالی (معاصر) شاعر دی، هغه یوازې داسې شاعر دی، چې تل یې په خپل شعر کې له خپلو خلکو سره خبرې کړي دي، تل یې غوښتي چې خپل شعري غږونه نورو ته ورسوي او د خپل اولس لپاره ترانې ووایي، شعرونه زمزمه کړي او نظمونه ورته اهداء کړي، خبره د شاعر ده د یوه داسې شاعر چې ګلونه ګلونه وړاندې له خپل شعر سره یې یو ځای

www.esalat.org

ژوند کړی دی، شعر یې هم مینه ده او هم وینه. شعر یې ژوند دی او د داسي شاعر خبره ده، چې د کلونو له اوږدو پیچومو څخه د شعر په پلوشو کې راتېر شوی دی. )

حافظ صاحب په (۱۳۳۵) لمريز کال کې د شوونکي او دمور دمقام او منزلت په هکله شعرونه ليکلي وو، چې دغو شعرونو د مور د ورځې لومړی درجه جایزه تر لاسه کړې ده. او بیا یې په (۱۳۵۲)لمريز کال خپلې مور ته يوشعر وليکه او د مېرمنو ټولنې ته یې وروليږه. دغې شعر هم جایزه وګټله. دیادوني وړ کنم ویل کیږي، چې هغه وخت دمیرمنو ټولنې ته د وخت ملکه هم راغلې وه، او حافظ صاحب یې د شعر د ویلو نه وروسته خپل حضور ته وروغوښته، چې د سروزو په یوې سکې او څه پیسو یې دی ونازوه. د بیلګې په توګه د غې شعر یو څو بیتونه ګورو:

ستا له دې شکلې خواږه نومه شم قربان مورې
زما کعبه، زما قبله، زما ایمان مورې
څمکه خو څه کړې قدمو کې دې هواره شکارې
د ادب سر درته ټیټ کړی دی آسمان مورې

- حافظ صاحب په خپلو شعرونو کې دوطن سره، دهیوادوالوسره، دملي یوالي اوملي وحدت سره، دخلکود اتحاد او اتفاق په هکله، د سولې، سوکالۍ، خپلواکۍ، آزادۍ په هکله، دملي احساساتو د راپارولو په هکله، د پښتو او پښتونولي سره خپله ژوره مینه او احساس په ډېرو ښکلو او په زړه پورو

انځورونو، اوخیالونو کې ترسیم کړي دي. د بیلګې په توګه د ده دا بیتونه ګورو، چې وایي:

زه چې هسې په نشه د وطن مست یم

د پښتو د ننګ مې ځښلی پیمانه ده

هسې شور مې د ملي مستۍ بیدار دی

چې حیرت کې ورته ډوبه میخانه ده

د هستی برابرې مې دی څوک نه کړی

د وطن هره غونډۍ مې خزانه ده

زه چې مست یم د وطن د عشق په میو

په پښتون زړه کې مې وینه مستانه ده

او یا وایي:

ای پښتنو ستاسې وطن یمه زه

غوړ راته کیږدی څه ویل غواړم

اولنی شی چې ارمان دی زما

هغه د ځان د آزادول غواړم

ستاسې د پلار او نیکونو کوریم

لږ دخپل ځان آبادول غواړم

www.esalat.org

چې مې پردې په حریم ونه بلوسې

تاسو نه د غومره ساتل غواړم

اویا وایې:

زه په هیڅ دول دا منلی نه شم

آخر خو زه د پښتنو وطن یم

چې غلامې له مرګه بده ګڼې

زه خو د هغو میړنو وطن یم

چې آزادي یې د فطرت برخه ده

د پرونو د ننو وطن یم

زامنو! پام کوئ هوښیارشئ ورته

زه خو د ستاسو لرغونو وطن یم

زه پلار وطن تاسو بچې یې زما

زما د ننګ نشان اوچت وساتئ

زما عزت په خپلواکې کې پروت دی

د پلار عزت مو په غیرت وساتئ

او یا وایې:

ویـــــاړلی خوا ته خړ مې خیبر دی

دغیرت طور دی د جنت ور دی

www.esalat.org

سـردار و دلته خوږلی سر دی

بـل ځای که بر و نو دلته لر دی

د تـورو ګـتو ولاړ یو غر دی

پـه تـورو غشو پرهر پرهر دی

د زلـمو سیمه د ننګ ډګر دی

پـه خپل قوت یې پوره باور دی

په کې ابادي ډېرې حجرې دي

د اتاتري دي، دا تاتري دي

او یا وایي:

زما شیرینه زما خوږ دمور او پلار وطنه

یم دي کوهکن زما د مینې پیوستون دا دی

بس چې د ستا د سوکالی ورځې پرې وګورمه

ارمان د عمر مې د سترګو نن پرون دا دی

ماته د سپین مخ تورو سترګو د بیلتون مه وایه

که چېرې بیل د ستا له غیږې شوم بیلتون دا دی

که رنځیدلی یم هم تا کې به صحت ومومم

زما شفا زما دوا زما روغتون دا دی

تر هغو نه کینم ترخو چې تا آباد نه کړمه

وطنه! تا سره مې عهد نن پرون دا دی

فکر وطن ژبه وطن احساس وطن وطن شو

بې لتا نه لرم مضمون زما مضمون دادی

ای د وطن د مور د غیږې مدرسه کې لویه

ځان دې شه پوه کړه ستا دپاره پوهنتون دا دی

چې دملي وحدت په میو کړي ملت سیرابه

بیره کوه ساقي چې وخت د پیوستون دا دی

حافظ دژوند وروستو سلګو کې هم وطن یادوي

www.esalat.org

شهيد په مينه د بانديې پښتون دا دى

او يا وايي:

زه دشراب، زه دکباب دخوړو وږى نه يم

ماته دميني محبت خواخوږه جامونه راکړه

ما دوزخي ته، چي دهجر په صراط تيريږم

درنه قربان شم لږ د وصل صفتونه راکړه

او يا وايي:

بيرغ دسولې مو په لاس کې د بشر دى

سوله غواړو

جګړه دې ورکه شي جګړه کې لوى خطر دى

سوله غواړو

او يا وايي:

زموږ خوښيري د پښتو خبرې

د مرکو او جرګو خبرې

ميراث زموږه د پلرو نيکونو

راپاتى شوى له وختو خبرې

او يا وايي:

ملى شعور را بيدار شوى تقاضا نوى ده

نن دپښتون دتورى شرنګ نوى رڼا نوى ده

د آزادى ګتى دپاره يو خروش جوړ دى

دپښتانه له هر بچى نه سرفروش جوړ دى

بيا دپښتون تاجک په کو رکې جم وجوش جوړ دى

دسر په وينو دځوانانو نو شانوش جوړ دى

تورى له تيکونه بر بندې راوتلي وينم

دغليمانو ورته سپينى تشتيدلى وينم

او يا وايي:

www.esalat.org

په کلک عزم هرسړی مرام ته رسي
د مطلب د لوی پړاو انجام ته رسي
د زلمو د ارادو له مضبوطوالي
ګټه ډیره خپل ولس او قام ته رسي
د ملي شعور احساس چې وپاریږي
نو انجام یې یو ملي قیام ته رسي
زه د مینې په کلک هوډبانديٍ ولاړ یم
که د ژوند غرمه مې اوس ماښام ته رسي
نیک بختي به له دي بله چرته مومي
چې مین د خپل جانان سلام ته رسي
او یا وایي:
ورپه غاړه افغانانو ته نن سبا ده
د وطن دخپلواکی ګټې سودا ده
اخیستل د دې متاع شي په سرونو
خپلول یې کله کیږي په لالونو
په ایثار فداکاری بانديٍ کیدای شي
په پوره دلاوری بانديٍ کیدای شي
دا میدان هغو ګټلی له هر چانه
چې وتلی وي دننګ له امتحانه
او یا وایي:
د پښتنې مور په لمن کې چې لوی شوی نه وي
د تیرو تورو سرته لاس وراچولی نه شي
د سپینو تورو د بریښنا سره چې نه وي بلد
د ننګ غیرت مقابلې ته دریدلی نه شي
چې په مزار د شهیدانو یې ونه رپیږي
د آزادی بیرغ هیڅوک پورته کولی نه شي
www.esalat.org

او یا وایي:

دلته پښتو شته، دلته پښتون شته
لیلا چې شته ده نو خود مجنون شته
دلته غورځنګ شته دلته پاڅون شته
دلته جرګه شته، دلته تړون شته
دلته دوستي شته، هم پیوستون شته
غیرت د نن هم دپرون شته

او یا وایي:

**ستا د وطن د زړه په رګ پورې ژورې نښتې**
**وروسته له دې دې راته ښکارې ژوندون ګران اولسه!**
**کلونه تیر پیرۍ شوې تیرې خو تراوسه پورې**
**تامعلوم نه کړل خائنان او صادقان اولسه!**
**چې ستا خدمت کوي پراته په تورو خاورو کې دي**
**ستا په قصرونو کې اوسیږي خائنان اولسه!**

او یا وایي:

**هغه چې ستا په نابودئ کې بود د ځان ویني**
**هوښیار شه وپیژنه دغسې کسان اولسه!**
**هغه چې ستا د سرسودا کوي له نورو سره**
**هغه به څنګه ستا وطن کاندې ودان اولسه!**
**هغه چې ستا په خوله وهي د خاموشئ مهرونه**
**آزادي څه شوه ستا د فکر او بیان اولسه**

او یا وایي:

**دغه دی وخت د دی امتحان د افغان اولسه!**
**په غریدلو سترګو ګوره دا جهان اولسه!**
**د ځان ځانی دنیا کړه ورانه غم د نورو وخوره**
**ترڅو به خورې د خپل ځان غم ستا وزیران اولسه!**

www.esalat.org

**چې د ملي وحدت کښتۍ دې څو سنباله نه کړي**
**نو ډوبوې به دې تر هغو دا توفان اولسه**

او یا وایي:

چې مې په سر کې د ملي وحدت خمار ویش کړي
ځای د استوګنې راته هسې میخانه کې راکړه
راته بلا د چا د تورو زلفو دام، چې نه شي
لوی قناعت راته د خال د وړه دانه کې راکړه

- حافظ صاحب په خپلو شعرونو کې د جنګ، ورانې، وحشت، استبداد اوظلم تصویرونه او دجګړې سره خپله کرکه داسې بیانوي. دبیلګې په توګه دا بیتونه ګورو، چې وایي:

اورونه رازرغون شول د ګلونو په هیواد کې
میلمنه شو محرم د اخترونو په هیواد کې
قدم قدم کې رنګ خپور شو د وینو هر خوا
د مرګ تیاره غوړیږي د رنګونو په هیواد کې

او یا وایي:

د اور په سرو لمبو سوسیږي د کابل ګلونه
د سپرلي وخت رژیږي دکابل ګلونه
راغله بې وخته پرې سیلۍ د څه نا ترسه خزان
داسې، چې مړاوي مړاوي کیږي دکابل ګلونه

- حافظ صاحب یو با احساسه او دردمن شاعر دی، چې د ده په شعرونو کې سوز وګداز، درداو نیاز له ورایه مالومیږي. دبیلګې په توګه د ده دا بیتونه ګورو، چې وایي:

www.esalat.org

تاسي که جامونه په سر واړول
موږه هم غمونه په سر واړول
تاسو د خوښۍ نشې په سر کړلي
موږه ټول غمونه په سر واړول
اويا وايي:
عشقه ستا غمونه ته وخاندم که وژاړم
دي بلو اورونو ته وخاندم که وژاړم
نه د غاړې هار د چا او نه ښکلا د څنو شوم
دي مړاوو ګلونو ته وخاندم که وژاړم
اويا وايي:
چې مې د ساز په اواز نور زړونه ناسازه نه شي
سوز د قفس راته په خپله اشيانه کې راکړه
چې زړه پرې وسوزم بې واره ورنه وګرځمه
د ژوندون شمع په آغوش د پروانه کې راکړه
چې د نړۍ د آسمان غر شم او دنيا رڼا کړم
دتېرۍ عظمت قدرت په نوي سامانه کې راکړه

که چيرې دحافظ صاحب شعرونه په غور سره وګورو، نو د اخرګنديږي، چې حافظ صاحب په خپلو شعرونو کې د داسې شعري کلماتو او الفاظو، خوږه ترکيبونو، تشبيهاتو او استعاراتو نه کار اخيستی دی، چې د ده دشعرونو ښکلې شاعرانه کيفيت له ورايه مالوميږي.

اجمل ختک، چې يو نامتو، پياوړی، وتلی او په پښتو او پښتنو يو مين شاعر دی د حافظ صاحب د ادبي شخصيت په اړه خپل نظر داسې څرګندکړی دی:

(دی د لرې او برې پښتونخوا په شاعرانو کې د لوړ مقام خښتن دی، په دواړو - لر او بر- کې ډېر قدر

www.esalat.org

او شهرت لري. د محبوبيت وړ په دې وجهه هم دی، چې دی ښکلی شعر تش د هنري ښکلا لپاره نه وايي او نه يې د خپلو شخصي جذباتو، اوارداتو او احساساتو د اظهار لپاره ليکلی، بلکې د ټولني تاريخ، د پښتونخوا د اولسونو د نن او پرون ارمان په داسې انداز کې بيانوي، چې سړی خوند او پند ترې اخلي او همدا ډول د مهابڼ شپونکی، د اپلبندونو کوچی، د پېښور يونيورسټی يو ګلالی او د پوهنتون يوه ملالی ترې يو شانته خو، جوش، ولوله او غورزنګ اخلي.

زه په خپله د شاعری د ټولو اړخونو د ژورې مطالعې يو طالب العلم يم او دا مې پر ځان لازم ګڼلې ده، چې د پښتو د شعر او فن د بشري او ملي اړخ سره ډېر نږدې پېژندګلوي پيدا کړم.

په لړ کې زما ډېره دلچسپي د حافظ او د ده د شعر او فن سره ده، ځکه په دعوې سره ويلی شم، چې نه يوازې د ده شعر خوند او ژوند لري، بلکې د ده شخصيت هم د ده د شعر غوندې خوږ او اثر ناک دی. )

حافظ صاحب نه يوازې په هيواد کې دننه، بلکې په بهر کې هم ديو پيژندل شوي ليکوال او شاعر په توګه معرفي شوی دی. ده په خپل وخت کې بهرني ملکونو ته زيات سفرونه کړي دي. دده لومړی سفر سعودي عربستان ته وه. ده هلته د حج مراسم ترسره کړل او بيا يې ډېرې ادبي اوفرهنګي موسسې وليدې او د دوی له تجاربو څخه يې خپله ګټه پورته کړه. ده پنځه واره شوروي اتحاد ته سفرونه کړي دي او هلته يې دادبي او فرهنګي موضوعاتو په هکله خپل مالومات بشپړ کړی

او د یو شمیر ادبي آثارو په هکله یې علمي او تحقیقاتي څیړنې کړي دي. دده ورستی سفر دعراق هیوادډپلازمینې بغداد ته وه. په بغداد کې د صدام حسین په واکمنې کې هر کال ادبي او فرهنګي غونډې او جشنونه ترتیبیدل او دبیلابیلو هیوادونونه ادبي او فرهنګي شخصیتونه دعوتیدل. حافظ صاحب په دغه سفر کې هم ادبي او فرهنګي موسسې ولیدلې او دعراق مهمو ښارونو ته یې سفرونه وکړل. دی په دغه سفر کې هند ته هم ولاړو او د ډهلي ښار یې هم ولید.
حافظ صاحب یو دروند، متواضع او باوقاره شخصیت دی. ده په (۱۳۷۴)لمریز کال کې له رسمي او دولتي وظایفو څخه تقاعد واخیست. اوس مهال دی په کابل کې اوسیږي. دی پنځه اولاده لري، کشر زوی یې د طب په فاکولته کې درس وایي او د درس په څنګ کې دخپل پلار لاره تعقیبوي او د شعرونو په لیکنو او ویلو هم بوخت دی. حافظ صاحب په خپلو نا چاپو آثارو کار کوي او غواړي، دا آثار چې ډیر لوی ملي او ادبي ارزښت لري خپلومینو والوته ډالی کړي. زه د خافظ صاحب د دغولویو باارزښتو کارونو او فعالیتونوقدر داني کوم او ده ته د خدای تعالی څخه د سترو بریاوو، بشپړې روغتیا او اوږده ژوندهیله کوم.
په ډیر درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادر مسعود

د حافظ صاحب يو شمير شعرونه مو غوره کړي دي، چې د دغو شعرونو په لوستلو کې د تاسو ادب دوستانو پام ورته راګرځوم:

ښاغلی نصرالله حافظ د ارواښاد سيلاب صاحب په هکله ، چې زموږ دهيواد يو درونده، نامتو، پوخ او وتلي شاعر وه او د ده ډير نږدې ملګری و، داسي وايي:

کله چې زه د ګران او محترم وروړ امان الله ( سيلاب) ساپي د شهادت نه خبر شوم نو دغه شعر مې په داسي حال کې وواېه چې له سترګو مې ورسره اوښکي بهېدلي.

## سيلاب ته

سيلابه ! ته چې تللي خبر کړی به دي وای
ملګری د دي اوږود سفر کړی به دي وای
حافظ به بې له تا نه چاته توی کړي د زړه وينې
ملګرو کې مې نشته دی مثال د ستا د مينې
که بار به وو زما په زړه د غره قدر غمونه
چې ډېر به شول په ما باندې په ژوند کې کړاوونه
چې دربه د غلم تاته تا به واخستل لمانه
په دکه خوله خندا به دي خوشاله کړم بېشانه
وو تود به تل مدام ستا په وجود د شعر بزم

درېدلی څومره کلک وي د پښتو په کړي عزم

اوس واورم د چا شعر چاته ووایم خپل شعر

تم شوی چې له کوم وخته د ستا د حیات مهر

ای ورورہ ستا د وینو شهادت ته مې سلام دی

دوستی کې ستا ریښتیني صداقت ته مې سلام دی

مزار دې راته ندی معلوم ګرانه چاره څه ده

د روح نه دې مدد غواړم راښایه لاره څه ده

سر شوی یم د ژوند په نا هموارو ګړنګونو

ځپلی دومره ډیر یمه د هجر نا تارونو

کړم فکر چې به نن او یا سبا ته لیونی شم

هو څیرې به ګریوان کړم د مالت به خندنی شم

راځه درنه قربان شم په خپر راشه لېونتوبه

توده به تاسره کړم هم د مینې ګرمه لوبه

غمونه د سېلاب به درته هر یو په حساب کړم

هو جوړ به د سېلاب په غم د شعر بل کتاب کړم

د اشا او خوا چې ګرځي دغه واړه لیوني دي

راغلي دغه ښار ته ببر سري لیوني دي

www.esalat.org

سېلابـه ! کـاشکې ډوب وای زه هم ستا مستو څپو کې

ملگری چې وای ستا سره د ژوند وروستو شېبو کې

قسم خورمه د ستا په نازک شعر زه سېلابه

چې ستا د مرگ خبر کړمه په زړه باندې خرابه

حافظ دې چا ته پرېښود چې ته لاړې له جهانه

قسم دی چې بې تا یمه په خپل ژوند ډېر ستومانه

*******************************

## د حُسن ګلان

مونږه د شعر له کوره څو خو غزل ځان سره وړو

بلې ډیوې د پتنګانو اجل ځان سره وړو

څه مو چې کړي په دنیا کې هغه دلته پرېږدو

ښه وي که بد وي دا ناچیزه عمل ځان سره وړو

چې هلته هم پرې نغری تود محبت پاتې شي

مونږ به د مینې لمبو خپرول ځان سره وړو

پرې لنډوو به د سپېرو دښتو اوږدې مزلې

بس خو همدغه به توښه د منزل ځان سره وړو

چې پرې ښېرازه او تازه وي ستا د حُسن ګلان

د ترمو اوښکو د باران ورول ځان سره وړو

(۱۳۷۰) آریانا هوټل احمدشاه بابا سیمینار د

*******************************

## د رڼا څرک

څرک د رڼا ته انتظار کړم

توره تیاره کې د ژوند لار کړم

چې مې یو ګل نشته د ژوند په بڼ کې

منت به خلکه د بهار کړم

هیڅوک په غم راسره نه شو شریک

په یوه سر دغه ناتار کړم

وران کړي څو ځله باران د اوښکو

چې په کاغذ دغه اشعار کړم

چې مې تر څو قلم په ګوتو کې وي

نوم د جانان به پري بار بار کړم

حافظ" ګلونه ټولووم د شعر

www.esalat.org

غـــــــــــــــــــــاړي تـه ســــــــتا د ګـلو هـا ر کـاږم

(۱۳٦۸)شـاه شـهيد کـابـل

*********************************

# غزل

بـيـا د لـيـلا د لاس بـنـګـړي پـه شرنـګـېدو شـکـاري
پـه شونـډو سرو يـې سور پـېزوان پـه ګـډېـدو شـکـاري
بـيـا د لـيـلا زلـفـې پـه مـخ بـانـدې سمسورې شـوې
خمارې سترګـې يـې پـه کـومـو رنـجو تـورې شـوې
د ښـايـسـتـوکـې خـورې نـخرې يـې نـورې شـوې
د جـهـان سترګـې ورتـه ستـرې پـه لـيـدو شـکـاري
بـيـا د کـړو بـنـو پـه غـشـو د دوی ښـکـا ر کـوي
وروځـې لـېـنـدې پـه مـئـيـنـانـو دغـه کـا ر کـوي
پـه بـلـې جـګـه شـوه د ا چـارې هـرسـهـا ر کـوي
سيـنـو کـې زړونـه ورتـه تـل پـه رپـېدو ښکـاري
بـيـا د ګـودر پـه لـورې ځـي ځـان يـې سيـنګـا ر کـه نـه
د سويـلـيـو جـوړ پـه ځـان پـسې کـتـا ر کـه نـه
د ګـودر سر يـې د ښکلا لـنـډۍ بـا زا ر کـه نـه
پـه تـور اوربـل يـې خـوږ نـسـيم پـه لـګـېدو ښکـاري
بـيـا يـې د خـيـالـه د سرو تـيـك سور پـه اوربـل کـه نـه
د مـئـيـن زړه يـې بـيـا پـه سرو لـمـبو جـلـبـل کـه نـه
پـه سپـيـنـه غـاړه يـې هـيـکـل ورسره مـل کـه نـه
حـافـظ بـل يـې د ا ښـايـسـت پـه غـوړېـدو ښـکـاري

*********************************

www.esalat.org

# د میخانې بلی

راشی، چې ډکې پیمانې واخلو
بلا په سر د میخانې واخلو
شوبه جرګه د میکدې په نغري
غچ به له تېرې زمانې واخلو
ساقي راواړوه د سترګو کاسې
چې یو څه کیف د یارانې واخلو
لږ مو د زړه په رباب ګوتې کیږدی
چې خوند د عشق له ترانې واخلو
که نور د شمعې د رڼا پسې ځي
موږ به د ایرې د پروانې واخلو

********************************

# دعشق جامونه

راشه چه واړوو په سر نوی جامونه د عشق
نن راته شکاری عجیبه غوندی رنګونه د عشق
ورته به واچوی زاهد له مستی ډک لاسونه
بیا په سر شوی دی په بل رنګ سرودونه دعشق
لاس دی زما په لاس کی راکړه چی دی ورسوم
ماته څرګند دي هسکي ټیټي منزلونه د عشق
نن یي له ډیره افتخاره سر اوچت وینمه
چا چي په سر باندي اخستي تومتونه د عشق
دمینی اور دي مدام بل وي په ګوګل کي زما
که مي منظور دچا په در شي ادا سوالونه د عشق

********************************

www.esalat.org

## يو كيدو خبرې

زما خوشيږي د پښتو خبرې

د مركو او د جركو خبرې

ميراث زموږه د پلرو نيكونو

راپاتې شوی له وختو خبرې

روغې زموږه په جركو شوی دی

دی دا زموږ د لرغونو خبرې

شو به د مينې په كلكه كې جركه

نه اورو نوری د پردو خبرې

په يو څادر كښينو د ورورنو غوندی

او كړو په خوند د يو كيدو خبرې

*******************************

## غزل

پښتو مې نه ده وركه پښتانه لاپه كې شته دی

درانده به نه شي سپكه چې درانده لاپه كې شته دی

ټپو كې دزلمو او د ترانو په زير او بم كې

حجرې ډيرې تودې دي ميلمانه لاپه كې شته دی

غوړيږي مې خزان كې چې د زړه د بن گلونه

دميني ارمانونه مې ستا نه لا په كې شته دی

www.esalat.org

چې نه شم غړولی سمې سترګې درته ګلي

تراوسه دي کاږه واږه بانه لاپه کې شته دی

رسیږي به منزل ته تالا شوی قافلې

ګینګړي خو دمجنون د کاروانه لا په کې شته دی

تازه به مې په اوښکو دا تالا ترغی چمن کړم

اغیزې د سپرلي د بارانه لا په کې شته دی

راځی که تماشې ته مې دزړه د لاله زار

داغونه ډیر د چا د بیلتانه لا په کې شته دی

د عشق دروغی جوړې ګډ حلال لوګي یې خیجي

کباب پټی دا نې د لړ ما نه لا په کې شته دی

*********************************

## غزل

د حسن ملنګان یو د جانان کوڅې ته ځو

د خپلې ورکې مینې د ارمان کوڅې ته ځو

شاید چې په کې بیا مومو کعبه د خپل مراد

جنونه ستا د رحم د ګریوان کوڅې ته ځو

د مینې خراباته ستا په سر کوو سوګند

درځو پر هغې لورې د ایمان کوڅې ته ځو

د مصر زلیخا دې ناز د مصر په کوڅو کړي

www.esalat.org

د مینې لېونې موږ د کنعان کوڅې ته ځو
وربړي مو پر سر که د تېرو تورو باران
ای عشقه ستا د عهد و د پیمان کوڅې ته ځو
د تورو تورو شپو د کږو لارو او کوڅو نه
د لمر غوندې راوځو د اسمان کوڅې ته ځو

********************************

## ددیدن خیرات

نن دې سترګو کې د کوم شراب مستي ده
چې راغلې مې په زړه هسې سستي ده
ستا ترخې سپورې زما خوږې د نورو
یاره! دا څه محبت ځنګه دوستي ده
ساقي ستا د منت بار په ولونه ورم
دا باده زما په لاس کې ((الستي)) ده
پیدا شوی له ازله یم سرلوړی
د غمازې غوندې مې کله زده پستي ده
ددیدن خیرات ژرژر ویشه په خوارو

www.esalat.org

د خیر کار کې په کار هرکله
چستي ده
مبارک دي د شکلا هستي تل
اوسه
راپه برخه تل مدام ماته
نیستي ده
ای د حسن زبردسته رحم
بویه
د حافظ خواري د عمر
زیردستي ده

*********************************

## اوږده شپه

شپه خومره لویه شوه اوږده شوه سبا هېڅ نه راځي
تیارې خورې په شا او خوا دي رڼا هېڅ نه راځي
د مجنون سترګې ورته فرش دي د راتلو په لاره
چې یو د ناز قدم پرې کیږدي لیلا هېڅ نه راځي
د خوشحالۍ نښې زما په مخکې سد لټوي
په سپېرو شونډو مې پېره د خندا نه راځي
ځنګه به روغ شي د زما ناسور وهلی زړګی
دردونه وار په وار راځي خو دوا هېڅ نه راځي
لېونی نه یم، چې یې خیال د بیا راتلو کومه
اوښکه چې لاره شي له سترګو نه بیا هېڅ نه راځي
که هر څه اوري، ښوروه سر ورته مه یې منه

دلته د دروغو کلي جوړ دي رښتيا هيڅ نه راځي

*****************************

## د کابل ګلونه

د اوړو په سرو لمبو سوزېږي د کابل ګلونه

د پسرلي په وخت رژېږي د کابل ګلونه

راغله بې وخته پرې سيلۍ د څه نا ترسه خزان

داسې چې مړاوي مړاوي کېږي د کابل ګلونه

بلبله خواره ته په څه ځورند وزرې ښکاري

د چا اوربل ته نه رسېږي د کابل ګلونه

د وينو رنګ د وينو بوي به په کې خود پروت وي

چې په سرو وينو راټوکېږي د کابل ګلونه

د اور د مالي له لاسه شوي ناپرسانه ښاره

نن چې وړيا تا کې خرڅېږي د کابل ګلونه

www.esalat.org

څوک څه خبر دي په دې وخت زما د زړه له اوره
چې ورته ګورم تالا کیږي د کابل ګلونه
دا خو ډیوې څه په مزار د شهیدانو نه دي
د زړه د اور په تاو بلیږي د کابل ګلونه
را وریدلي پرې د چا د ماتم اوښکې نه دي
په خپلو اوښکو لمبیږي د کابل ګلونه
ماته زما د زړه ټوټه ده هره پاڼه د ګل
تاته به څه رنګه ښکاریږي د کابل ګلونه
چې پټوي په مړاوو پاڼو کې خپل زیړ مخونه
دا خو په ځان پورې شرمیږي د کابل ګلونه
ماته صفت څله کوې ته د جهان د ګلو
خدایږو چې ډېر ډېر مې یادیږي د کابل ګلونه
هغه زما د مینتوب د یارانې ریباران

www.esalat.org

کلله زما څنې هېرېږي د کابل ګلونه
حافظ)) به نه وي که بیا راشي پسرلی د ژوندون((
بویه چې بیا پرې وغوړېږي د کابل ګلونه

********************************

په ډېر درنښت او ادبي مینه:
انجنیر عبد القادر مسعود

www.esalat.org